الدرس الثامن

الاسراء والمعراج

اتم درس

د اسراء او معراج واقعه

د طائف نه رسول اللهﷺ ډير د غم په حالت کښې راواپس شوی وو ، ددی نه مخکښې ابو طالب وفات شو ، وروسته خديجه رضی الله عنها وفات شوی وه ، او مشرکانو ظلمونه هم دحد نه ډير شوی وو ، نبی کريم ﷺ لره غمونو د هر طرفنه راګير کړی وو ، داسی حالت کښې د الله تعالی د طرفنه د اطمينان او سکينه اسباب راغلل ، يوه شپه نبی کريم ﷺ آرام کولو چې جبريل عليه السلام د براق سره راغلو ، براق د آس پشان حيوان وو ، د بجلۍ پشان تيز رفتار وو، نبی کريم ﷺ پدی سورلۍ باندی کيناستولۍ شو او فلسطين ته بيت المقدس ته بوتللی شو ، د هلته نه نبی کريم ﷺ آسمانونو ته سفر وکړو چې پدی سفر کښې نبی کريمﷺ د الله تعالی د قدرت ډيری نخی نخانی وليدلي ، پدی سفرکښې پنځه مونځونه فرض شو ، او په دی شپه واپس مکے ته راغلو ، او د نبی کريم ﷺ زړه مطمئن او مضبوط شوی وو ، ددی په باره کښې الله تعالی فرمائی : [سُبْحَانَ الَّذِي أَسْرَى بِعَبْدِهِ لَيْلًا مِنَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ إِلَى الْمَسْجِدِ الْأَقْصَى الَّذِي بَارَكْنَا حَوْلَهُ لِنُرِيَهُ مِنْ آيَاتِنَا إِنَّهُ هُوَ السَّمِيعُ الْبَصِيرُ] {الإسراء:١} ترجمه : پاکی ده الله تعالی لره (د هر قسم شرک او د عيبونو نه) هغه ذات دی چې بوتلو بنده خپل په ټکره د شپه کښې د مسجد حرام نه تر مسجد اقصی پورې ، هغه چې برکات اچولی دی مونږ چاپيره د هغې نه ، دپاره ددې چې اوښايو مونږ ده ته د نښو د قدرت او د توحيد زمونږ نه ، يقينا الله تعالی هر څه آوری او هر څه وينی ، بله ورځ نبی کريم ﷺ خانه کعبے سره کيناستو او خلقو ته ئے د تيری شوی شپې حالات بيانول کافرانو د نبی کريم ﷺ د خبری تکذيب وکړو ، خنداګانی ئے کولی ، يو تن ووئيل چې ته بيت المقدس ته تللی ئے نو مونږ ته د هغی شکل بيان کړه ، مقصد ئے د نبی کريم ﷺ دروغجن ثابتول وو ، الله تعالی بيت المقدس د نبی کريم ﷺ د سترګو مخکښې را اُوچت کړو ، د مشرکانو د ټولو تپوسونو جواب ئے ورکړو ، مشرکانو پدی خبره يقين ونکړو، د بل دليل مطالبه ئے وکړه دويم دليل نبی کريم ﷺ ورته ووئيل چې لاره کښې يوه قافله مکے مکرمی ته راتلله ، نبی کريم ﷺ د هغی ټول احوال بيان کړل چې څومره اُوښان دی ، څو ورځو کښې به راورسی ، ليکن ددی هرڅه باوجود کفار په خپل ضد باندی کلک وو، په بله ورځ جبرئيل عليه السلام راغلې او نبی کريم ﷺ ته ئے د مونځونو طريقه او وختونه وښودل ، اول صرف سهار دوه رکعاته او د ماسخوتن دوه رکعاته مونځ فرض وو ، پدی موقعه نبی کريم ﷺ خپل دعوت صرف د بهر نه راتلونکی خلقو دپاره خاص کړی وو چې مکے والا د اسلام په خلاف قسم خوړلی وو ، د بهر نه راتلونکی ته به ئے د پناه اخستلو په باره کښې هم خبره کوله چې ما له په خپل ملك کي پناه راکړئ ، او اسلام به ئے د هغوی مخکښې پيش کولو، او وضاحت به ئے ورته کولو ، بل طرفته به ابولهب د نبی کريم ﷺ شاته روان وو ، او خلق به ئے د نبی کريم ﷺ د دعوت نه منع کول ، يو ځل څه کسان د مدينی (يثرب) نه حج له راغلی وو ، نبی کريم ﷺ ورته دعوت ورکړو ، هغوی د نبی کريم ﷺ خبری ته خه غوږ کيښودو، او په نبی کريم ﷺ باندی ايمان راوړلو کښې متفق شو،او ايمان ئے قبول کړو ، مدينی والو د يهودو نه آوريدلی وو چې آخره زمانه کښې به يو نبی راځی کله چې نبی کريم ﷺ دوی ته دعوت ورکړو نو دوي ووئيل چې دا هغه آخری نبی کريم دی ، هسی نه چې يهود رانه مخکښې شی،دا شپږ کسان وو، بل کال باندي د مدينے نه دولس (١٢)کسان راغلل،نبی کريمﷺ ورسره مصعب بن عمير رضی الله عنه وليږلو چې مدينی والو ته قرآن وښائی، او د دين احکام ورته وښائی د الله تعالی په مدد سره مصعب رضی الله عنه مدينے والو باندي ښه محنت وکړو ، يو کال پس مکے مکرمي ته واپس راغلو سره د مدينے والو نه دوه اوويا (٧٢) سړی او ښځي راغلل، دا خلق د نبی کريم ﷺ سره ميلاو شول ، دوی د نبی کريم ﷺ سره ددين په نصرت باندي بيعت وکړو ، او ددی نه پس مدينی ته واپس شول .